# شتمني
# SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**د مصافحې اجر، ثواب او برکتونه:**

**د حديث شريف ژباړه:** کله چي دوه مسلمانان سره مخامخ سي، مصافحه (روغبړ) وکړي او د الله تعالی حمد ووايي او د خانونو لپاره مغفرت وغواړي؛ نو دواړو ته مغفرت کېږي. : [رواه ابوداؤد باب في المصافحة (ص: ۳۵۲ ج:۲)]

**اجر، ثواب و برکات مصافحه:**

**ترجمه حديث شريف:** هنگاميکه دو مسلمان رو برو شود، مصافحه (احوال پرسی) کنند و حمد خداوند متعال بگويند و برای خود مغفرت خواهی کنند، هر دو بخشيده می شوند. : [رواه ابوداؤد باب في المصافحة (ص: ۳۵۲ ج:۲)]

(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


چهارشنبه | د جمادی الاول ۱-۱۴۴۵ / د لړم ۲۴-۱۴۰۲ / د نومبر ۱۵-۲۰۲۳ / دوهم کال / ۷۴ گڼه / ۴ مخيز




## سرمقاله

### په ماليې وزارت کي د ظرفيت لوړوني لړۍ

ظرفيت لوړونه د ادراکي روش پياوړي کولو يوه اغېزمنه او تل پاتي لاره ده. د مسلکي کېدو لوري ته د يوه کس يا يوې ډلې ځانگړي کول دي. ظرفيت لوړونه نه يوازي دا چي د يوه شخص شخصيت او کړه وړه جوړوي ترڅنگ ئې د شخص کاري ليدلوری هم په معيار برابروي، په ادارو کي د ښه کاري مديريت او له مراجعينو او همکارانو سره د کار په سفر کي نوښتونه هم رامنځته کوي، اداره هم مسلکي کوي، چي د ملت او دولت ترمنځ د واټن په راکمولو کي ښه رول ادا کولای سي. په هره اداره کي د با ظرفيته کارکوونکو شتون کاري بهير اسانوي، همغږي رامنځته کوي، د مراجعينو کار را لنډوي، په لنډه موده کي ډېر کارونه په اغېزمنه توگه ترسره کوي او ورسره پېچلو مسايلو ته په اسانۍ سره د حل لاره پيدا کوي. دغه ټکو ته مو ځکه اشاره وکړه، چي با ظرفيته کارکوونکي په خپل چاپېريال کي موانع او خنډونه په نښه کوي، کله چي خنډونه له منځه ولاړل بيا دولت او غير دولتي سازمانونه خپلي موخي په اسانۍ سره ترلاسه کولای سي او پايلي ته ژر لاسرسی پيدا کولای سي. د ظرفيت لوړولو دغه بهير د ماليې وزارت په اډانه کي هم يو ځانگړی رول او ځای پيدا کړی، چي د تېرو څه باندي دوو کلونو په موده کي، چي کله اسلامي امارت بيا حاکميت ترلاسه کړی، په ټولو ارگانونو په خاصه توگه په ماليې وزارت کي د نويو گومارل سوو کارکوونکو د ظرفيت لوړولو په موخه د بشري سرچينو رياست له لوري، د خزاينو لوی رياست او د عوايدو او گمرکونو ملي اکاډمۍ په همکارۍ په سلگونو کسان په مرکز کابل او څلور دېرشو ولايتونو کي په خپلو اړوندو برخو کي و روزل او روزل کېږي، چي دا بهير به نور هم وغځېږي. تر اوسه پوري د همدې ادارو له لوري د هيواد د څلور دېرش ولايتونو له مستوفيتونو څخه د عوايد، تدارکاتو، مالي او املاکو په برخه کي (۳۷۹) تنه نوي گومارل سوي کسان روزل سوي، چي له دې ډلي څخه (۲۷۱) تنه ئې يوازي د مديريت او له مراجعينو سره د نېک او غوره چلند په برخه کي دي. همدا زار په مرکز کابل کي د مديريتي ځانگي په برخه کي (۹۷) تنه روزل سوي دي، چي د هيواد په کچه د ټولو روزل سوو کسانو شمېر (۱۶۵۹) تنو ته رسېږي. د دې ترڅنگ د بشري سرچينو رياست له لوري يو شمېر کارکوونکو ته د ظرفيت لوړولو په برخه کي تحصيلي بورسونه هم چمتو سوي دي، چي له دې ډلي (۱۶) چين هيواد او (۲) تنه پاکستان هيواد ته په تحصيلي بورسيو تللي دي. د ماليې وزارت د بشري سرچينو رياست په ځانگړې توگه د ظرفيت لوړوني برخي مسؤلين هڅه کوي، چي د ماليې وزارت اړوندو ادارو ته مسلکي کادرونه او مستعد کسان معرفي کړي. په ټوله کي د کارکوونکو د ظرفيت لوړولو بهير دا وښووده، چي عوايد په شفاف ډول راټول سي، د وړ کسانو او متخصصينو په مټ د (۱۴۰۲) کال ملي بوديجه ترتيب، تائيد او منظور سي په داسي حال کي، چي پخوا د بوديجې په برخه کي ډېری کسان بهرني سلاکاران ول او داخلي ظرفيت مو دا ډول وړتيا ډېره کمه درلوده، اوس د فساد کچه ټيټه سوې، د ټولو ادارو ترمنځ همغږي زياته سوې، په زرگونو کيلو گرامه نا قانونه او قاچاقي توکي کشف او ترلاسه سوي، د ماليې وزارت اړوندي اداري د مسلکيتوب لوري ته گامونه پورته کړي او د خپل پاينښت لپاره کار کوي. ماليې وزارت د ټولو کارکوونکو د ظرفيت لوړولو ته ژمن دئ، مسلکي اداري ته کار کوي او د مسلکي او تخصصي کارکوونکو په مټ د اسلامي نظام د بقا او مالي نظام د خپلواکۍ او پاينښت په موخه کار کوي.

درښت

اداره

## د روان مالي کال په لومړنيو شپږنيمو مياشتو کي (۹۴) زره ټنه قاچاقي توکي نيول سوي دي




د ماليې وزارت وېښو او ځيرکو کارکوونکو د (۱۴۰۲) مالي کال په لومړنيو شپږنيمو مياشتو کي د کندهار، نيمروز، خوست، پکتيا، هلمند او ننگرهار ولايتونو په بېلابېلو برخو کي د (۹۴) زره (۱۱۶) ټنه بې کيفيته او ممنوعه توکو؛ لکه: طبي، زراعتي او يوناني درمل، خوراکي توکي، نشه يي مواد او داسي نور، چي په قاچاقي ډول له پاکستان هيواد څخه افغانستان ته واردېدل، مخنيوی کړی دئ. اوس مهال د هيواد په ټولو لويو لارو کي د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د گرځنده څارني ټيمونه فعال دي او هيڅ چاته اجازه نه ورکوي، چي قاچاقي او ممنوعه توکي په ځانگړي ډول هغه توکي، چي زموږ د کورني صنعت د ضعف لامل کېږي، وارد او يا صادر کړي. قاچاقي توکي، چي له يوې خوا د عوايدو ټېټتي ته زمينه برابروي او له بل لوري په بازارونو کي د سوداگرو ترمنځ ناسم رقابت رامنځته کوي، چي په پايله کي د قاچاقو مخنيوی د قانوني سوداگرۍ د ودي او پراختيا لامل گرځي. د يادوني وړ ده، چي د قاچاقي او ممنوعه توکو مخنيوی د ماليې وزارت د رهبرۍ له لومړيتوبونو څخه شمېرل کېږي، چي له همدې کبله اړوند مسؤلين هره ورځ په ياده برخه کي غوره لاسته راوړني لري.

## د ماليې وزارت اداري معين او کفيل د ملگرو ملتونو د سرمنشي له پخواني مرستيال سره وکتل

د ماليې وزارت اداري معين او کفيل ښاغلي حمدالله «زاهد» د نشه يي توکو او جرمونو په چارو کي د ملگرو ملتونو د سرمنشي له پخواني مرستيال ښاغلي (Pino Arlacchi) سره وکتل. په دې کتنه کي ښاغلي «ارلاچي» ومنله، چي په افغانستان کي د نورو پرمختگونو ترڅنگ، د نشه يي توکو په کښت او قاچاق کي هم بې ساری کموالی راغلی دئ. نوموړي زياته کړه، چي دغه مثبت گام د افغانستان او نړۍ لپاره يو ښه خبر دئ. نو اړينه ده، چي نړيوال له افغان بزگرانو سره د کوکنارو د بديل کښت په برابرولو کي لازمه همکاري وکړي. د ماليې وزارت اداري معين او کفيل مولوي حمدالله «زاهد» د ښاغلي ارلاچي له مثبت نظر څخه مننه وکړه او زياته ئې کړه، چي د مخدره توکو کښت، توليد او قاچاق د ټولو هيوادونو لپاره يوه ننگونه ده، چي اسلامي امارت ئې په وړاندي جدي مبارزه کوي او نړيوال بايد په دې برخه د افغان بزگرانو لپاره د بديلو لارو چار په رامنځته کولو کي مرسته وکړي. د ماليې وزارت اداري معين او کفيل همدا راز يادونه وکړه، چي د افغانستان اسلامي امارت د مخدره توکو د له منځه وړلو په برخه کي د نړۍ له هيوادونو او سازمانونو سره هر ډول رغنده همکارۍ او مخامخ خبرو اترو ته چمتو دئ.



## د ډنډ پټان او ابو نصر فراهي په گمرکونو کي د شاوخوا (۷۸) ميليونه افغانيو په ارزښت د رغنيزو پروژو چاري پيل سوې

د گمرکونو لوی رياست سوداگرو ته د اسانتيا رامنځته کولو او د دوی ستونزو ته د رسېدو په موخه د پکتيا ولايت د ډنډپټان په گمرك کي د (۴۳.۷) ميليونه افغانيو په ارزښت د دوه بابه هنگرونو جوړولو، د گمرك د ساحې هوارولو او د دغه گمرك د شاوخوا استنادي دېوال جوړولو او همدا رنگه د فراه ولايت د ابونصر فراهي په گمرك کي د (۳۴) ميليونه افغانيو په ارزښت د سوداگريزو توکو د خوندي ساتلو او سوداگرو ته د اسانتياوو رامنځته کولو په موخه د دوه بابه هنگرونو او د دغه گمرك د تاورونو د جوړېدو چاري پيل سوې. د ډنډ پټان په گمرك کي د پروژو د پيل پرانيستنه د گمرکونو لوی رياست د حمايت او پراختيا رئيس ښاغلي محمد موسی عمر په مشرۍ له مرکز کابل څخه د تللي پلاوي او د پکتيا ولايت د مسؤلينو له لوري په رسمي ډول وسوه، همدا شان د ابونصر فراهي په گمرك کي د پروژې د پيل پرانيستنه د لوړ پوړو مسؤلينو تر څنگ د فراه ولايت مقام، د دې ولايت د ښار جوړوني رياست او د سوداگرۍ خوني د استازو له لوري د پټۍ په پرېکولو سره وسوه.




د يادوني وړ ده، چي د يادو پروژو بوديجه د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه تمويلېږي او چاري به ئې د يوه کال په موده کي بشپړې سي، چي له دې سره به سوداگرو ته د اسانتياوو رامنځته کېدو تر څنگ د دواړو گمرکونو چاري لا چټکي او کارکوونکو ته به ئې هم اسانتياوي رامنځته سي.



**د خزاينو لوی رياست پلاوي لغمان، ننگرهار، کونړ او نورستان ولايتونو ته سفر وکړ**


۴

**د مستوفيتونو (آی تي) مديرانو ته روزنيز پروگرام پيل سو**


۴





**جلسات تخنيکی و مشورتی تطبيق ريفورم بودجه سازی برگزار گرديد**


۴




**د روان مالي کال د تلي په مياشت کي په گمرکونو کي د تر سره سوو فعاليتونو تخنيکي ارزونه وسوه**


۴




**د عوايدو لوی رياست له لوري د ادارو او وزارتونو د اړتيا سنجوني ناسته ترسره سوه**


۴




94,000 Tons of Contrabands Seized in First 6.5 Months of Current Fiscal Year


۴

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

## د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست رهبری د سرای شهزاده له صرافانو سره ناسته وکړه



د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين ښاغلي الحاج ملا عبدالقاهر ادريس، د عوايدو لوی رياست تخنيکي مرستيال او کفيل ښاغلي عبدالولي نوري، د دغه رياست عملياتي مرستيال حافظ خليل احمد ابوالا حسان، د حقوقي خدمتونو او عوايدو پاليسۍ رئيس مولوی نداء محمد صديقي، د کوچنيو ماليه ورکوونکو رئيس محمد هاشم هاشمي، د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر سيد احمد هائد، د کورنيو چارو وزارت او د افغانستان بانک د استازو په حضور کي د صرافانو له اتحاديې سره د ماليې د ورکړي په څرنگوالي ناسته وکړه. په دغه ناسته کي د (۱۴۰۱) کال د ثابتي ماليې او همدارنگه د (۱۴۰۲) کال د اظهار نامې له طريقه د مالياتو په ورکړه بحث وسو؛ همدا راز پرېکړه وسوه، چي د اظهار نامې په برخه کي به صرافانو ته د عوايدو لوی رياست له لوري روزنيز پروگرامونه جوړ سي؛ ترڅو د اظهار نامې په وړاندي کولو کي ستونزه ونه لري؛ نو د دې لپاره به يو تخنيکي ټيم جوړېږي، چي په مرسته به ئې د دوی ستونزي حل سي.

## جلسات تخنیکی و مشورتی تطبیق ریفورم بودجه سازی برگزار گردید




نشست تخنیکی و مشورتی تطبیق ریفورم بودجه سازی تحت ریاست پوهنمل غلام عمر عبدالله، رئیس پلان و ریفورم بودجه ملی با واحدهای بودجوی به شکل انفرادی بر اساس برنامه و اشتراک تیم اداری تخنیکی وزارت صحت عامه و شورای طبی غذا و ادویه، برگزار گردید. در اغاز این نشست تمام برنامه های اصلی، فرعی و فعالیت های وزارت صحت عامه مورد بررسی قرار گرفت. بعد از بررسی تمامی برنامه ها و فعالیت های آن بر اساس ساختار تشکیلاتی و ارائه خدمات ترتیب و تصحیح گردید و از برنامه ها و فعالیت های مشابه جلوگیری به عمل آمد. همچنان از سوی تیم تخنیکی ریاست عمومی بودجه ملی رهنمایی های لازم به اشتراک کنندگان ارائه گردید.

## د خزاينو لوی رياست پلاوي لغمان، ننگرهار، کونړ او نورستان ولايتونو ته سفر وکړ

د خزاينو لوی رياست څوارلس کسيز تخنيکي پلاوي، چي مشري ئې د افغانستان د مالي مديريت معلوماتي سيستم (افميس) رئيس ستارالدين معتصم او د محاسباتو رئيس محب الله صاحبزاده کوله، د لغمان، ننگرهار، کونړ او نورستان ولايتونو د مستوفيتونو د مالي آمريتونو او ادارو له مالي چارو څخه له نږدې کتني او ارزوني، د کارکوونکو د روزني، د بې ځايه لگښتونو د کنترول او بيروکراسۍ ختمولو، د مستوفيتونو او ولايتي ادارو ترمنځ د همغږۍ پياوړي کولو، په اداري چارو کي د روڼتيا رامنځته کولو، د اوږدو پروسو لنډولو، دقيق او پر وخت د حساب ورکولو، د نوي نقدي او جنسي محاسبې د تعليماتنامې اړوند نظرياتو راټولولو او نورو اړينو مواردو په موخه يادو ولايتونو ته سفر وکړ.

په دغو ناستو کي، چي له مستوفيانو سره په يادو ولايتونو کي ترسره سوې، په لومړي گام کي د يادو ولايتونو مستوفيانو په ترتيب سره مولوي فاروق انصار پشه يي، حافظ شاه حسين حسيني، مولوي ذبيح الله شاکر او محمد امير فيضاني راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست ترځنگ وويل، د شکر ځای دئ، چي ځوانان په امارتي ادارو کي گومارل سوي دي، چي دغه ځوانان د نظام د ملا د تير په څېر کار کوي. وروسته د ياد پلاوي رئيسانو د مستوفيت د مالي آمريتونو کارکوونکو ته هدايت وکړ، چي ياد فرصتونه دي غنيمت




وشمېري او په مالي او حسابي برخه کي له دغه تخنيکي، مسلکي او عملي پريزينټېشنونو او لارښودونو څخه، چي د پلاوي له لوري وړاندي کېږي اعظمي گټه پورته کړي او د شرعي قوانينو او مقرراتو په رڼا کي په لگښتونو کي د سپما او له بيت مال څخه د ساتني په برخه کي د ماليې وزارت په متحد المالونو او هداياتو باندي جدي اقدامات وکړي. له هغه وروسته د يادو ولايتونو د محاسبې لويو مديرانو د مالي چارو د ټولو اوسنيو پروسو په اړه پريزينټېشن وړاندي کړ، چي نيمگړتياوي او ستونزي ئې د پلاوي له خوا په گوته سوې. ورپسې د ياد پلاوي د هري څانگي مسئول د خپلو کارونو په اړه پريزينټېشن وړاندي او د گډونوالو پوښتنو ته ئې ځوابونه ورکړل. د ماليې وزارت تخنيکي کارکوونکو د مستوفيتونو د مالي آمريتونو

اړوند ټولو څانگو څخه بيا کتنه وکړه، په هره برخه کي ئې د کار په جريان کي هغوی ته روزنه ورکړه او هغه ستونزي او نيمگړتياوي ئې له نږدې څخه حل کړې، چي مالي آمريتونه ورسره مخ ول. همدارنگه د هيواد په کچه لويي ننگوني او ستونزي ئې هم له ځان سره ياد داښت کړې، ترڅو د اطلاع رسوني او اړينو پرېکړو په موخه ئې له مرکز سره شريکي کړي. همدارنگه د محاسباتو رئيس په دې اړه مفصل پريزينټېشن، چي محتوا ئې د ماليې وزارت او د خزاينو لوی رياست عمده دندي او مسئوليتونه، په ولايتونو کي د مستوفيتونو ارزښت او موقف، په (۱۴۰۱) کال کي د ولايتونو لگښتونه او عوايد او همدا راز ضروري او غير ضروري لگښتونه ول، گډونوالو ته وړاندي کړل. وروسته د ادارو د رئيسانو پوښتنو ته د قناعت وړ ځوابونه ورکړل سول او وويل سول، چي د دوی غوښتني به د اجراآتو په موخه له چارواکو سره شريکي سي، د دې تر څنگ د ذکر سوو موخو د پلي کولو او د هغوی د ستونزو اورېدو په موخه د مالي او اداري آمرينو سره هم ناستي ترسره سوې، چي په دې برخه کي گڼ شمېر پوښتني د گډونوالو له لوري مطرح سوې او د ياد پلاوي له خوا قانع کوونکي ځوابونه او اړيني سپارښتني وړاندي سوې او په پای کي دغه ناستي د دعايې په ويلو سره پای ته ورسېدې.

## د مستوفيتونو (آی ټي) مديرانو ته روزنيز پروگرام پيل سو

د ماليې وزارت د بشري سرچينو رياست د يو لړ مراسمو په ترڅ کي د ولايتي مستوفيتونو (آی ټي) مديرانو د ظرفيت لوړوني په موخه د گمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ د کنفرانسونو په تالار کي روزنيز پروگرام پيل کړ. په دې پروگرام کي د بشري سرچينو رئيس مولوي احمدشاه شاکر، د آی ټي رياست کفيل عبيدالله ثاقب، د ولايتي عوايدو د انسجام او پراختيا رئيس انجنير عبدالله حيدري او د مستوفيتونو د (آی ټي) مديرانو گډون کړی وو. د بشري سرچينو رئيس مولوي احمدشاه شاکر د دغه پروگرام په پرانيستې ويناکي وويل، د ماليې وزارت د ټولو ادارو لپاره د زړه حيثيت لري، لکه څنگه چي زړه د انسان بدن ته دويني رسولو دنده لري، همداسي د ماليې وزارت هم د نورو ادارو د لگښتونو او معاشاتو په برابرولو سره د هغوی ملاتړ کوي، چي د ماليې وزارت له ملاتړ پرته




ټول ارگانونه او اداري له جدي ستونزو سره مخ کېږي. د بشري سرچينو رئيس له گډونوالو وغوښتل، چي د خپل مسلکي ظرفيت لوړولو په برخه کي له سته فرصتونو او امکاناتو څخه د گټې اخيستني تر څنگ دي هڅه وکړي، چي خپل گټور معلومات زيات او په ټول توان، غوره اخلاقو، نېک کردار او چلند سره د يوه اسلامي نظام د استازي په توگه خلکو ته د پام وړ خدمتونه وړاندي کړي.

د ولايتي عوايدو د انسجام او پراختيا رئيس انجنير عبدالله حيدري په خپلو خبرو کي وويل، تاسي هم پوهېږئ، چي عوايد د سيستم له لاري راټولېږي او که په سيستم کي کومه ستونزه رامنځته سي، ټول عوايدي سيستم به گډوډ سي؛ نو د (آي ټي) د کارکوونکي په توگه، له دې فرصت څخه گټه پورته او د خپلي مسلکي پوهي په لوړولو سره د سيستم د فعال او آپډېټ ساتلو په موخه، د عوايدو په راټولو او د هيواد د اقتصادي ځانبسياينې په برخه کي کوټلي گامونه پورته کړئ. د يادوني وړ ده، چي دغه پروگرام به پنځه ورځي دوام وکړي، گډونوالو ته به د نيټورک، هارډوير، سافټوير او سيستمونو په برخه کي تدريس ورکړل سي او د درسونو له پای ته رسېدو وروسته به له هغوی ازموينه هم واخيستل سي.

## د روان مالي کال د تلي په مياشت کي په گمرکونو کي د تر سره سوو فعاليتونو تخنيکي ارزونه وسوه

د روان مالي کال د تلي په مياشت کي د گمرکونو د وضعيت ارزوني په موخه تخنيکي ناسته د گمرکونو لوی رياست د تخنيکي او عملياتي مرستيالانو، رئيسانو او د ويډيو کنفرانس له لاري د ولايتي گمرکونو د مسؤلينو په گډون د گمرکونو او عوايدو په معينيت کي جوړه سوه. په پيل کي د گمرکونو لوی رياست د پلان جوړوني، پاليسۍ، څارني او ارزوني رئيس ښاغلي محمد وسيم عثمان له لوري د تلي په مياشت کي په گمرکونو کي د تر سره سوو فعاليتونو په تړاو توليز راپور وړاندي سو او همدا راز په دې موده کي د عوايدو راټولېدو، د هيواد په ټولو گمرکونو کي د تر سره سوي سوداگرۍ، د وارداتي توکو



گمرکي ارزښت او د سوداگريزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په اړه گډونوالو ته بشپړ معلومات وړاندي کړل.

همدا راز گډونوالو د تلي مياشتي د راپور په اړه هر اړخيز بحث وکړ او د چارو د لا ښه والي لپاره ئې د ولايتي گمرکونو مسؤلينو ته لازمي سلا مشورې ورکړې. د ولايتي گمرکونو مسؤلينو هم په خپل وار سره په خپلو اړوندو کاري برخو کي د شته ستونزو يادونه وکړه، چي د گمرکونو لوی رياست د رهبرۍ له لوري ئې د ژر تر ژره حل کېدو ډاډ ورکړل سو. د يادوني وړ ده، چي د گمرکونو لوی رياست په مياشتني، ربعوار او کلني ډول د ټولو گمرکونو تخنيکي ارزونه کوي څو شته ستونزو ته پر خپل وخت رسېدنه وسي.

## امتحان تحریری دو بست ریاست اقتصاد بزرگ وزارت مالیه اخذ گردید

وزارت مالیه متعهد به سپردن کار به اهل کار، ایجاد شفافیت در ادارات مربوطه خویش و جذب کادر های داخلی بوده و همواره در این راستا تلاش نموده است. بر همین اساس ریاست منابع بشری امتحان (۲) بست (کارشناس ارشد تحلیل و پیشبینی پالیسی عواید گمرکی و تعرفه و کارشناس ارشد تحلیل و پیشبینی پالیسی عواید مالیاتی) ریاست اقتصاد بزرگ این وزارت را از طریق رقابت آزاد و بطور شفاف اخذ نمود.

در این امتحان که در خیبرهال وزارت مالیه اخذ گردید، (۱۳) تن در بست کارشناس ارشد تحلیل و پیشبینی پالیسی عواید گمرکی و تعرفه و (۹) تن در بست کارشناس ارشد تحلیل و پیشبینی پالیسی عواید مالیاتی اشتراک نموده بودند. از مجموع اشتراک کنندگان (۲) تن از کسانی که بالاترین نمره را در امتحان تحریری کسب کرده باشند، بعد از سپری کردن امتحان تقریری در بست های مربوطه جذب می گردند.

SHTAMANI



ماستر محمد افضل الکوزی

# فعالیت های عمده وزارت مالیه چیست؟

در عصر سلطنت احمد شاه بابا که به امور مالی اهمیت بیشتری قایل بود و برای اولین بار در سال (۱۱۴۰) شمسی در کنار سایر تشکیلات دولت شعبه را به نام دیوان همایون اعلی (وزارت مالیه امروزی) تاسیس شد. از سال ۱۲۹۸ شمسی بدینسو در تشکیلات اداری دولت های افغانستان یعنی اضافه تر از یکصد سال از امروز جایگاه خود را تحت عنوان وزارت مالیه داشته و وزارت در ادوار مختلف به حیث وزیر مالیه، پالیسی ساز، مراقبت، نظارت کلیه مسایل مربوط به امور مالی دولت را به عهده گرفته اند. ولی وزارت مالیه امروز چه وظایف را به پیش می برد و چه تفاوتی با وزارت همان زمان دارد؟ وزارت مالیه بر اساس حکم ماده (۴۲) قانون اساسی افغانستان جمع آوری عواید مالیاتی و غیرمالیاتی، ترتیب بودیجه، کنترول مصارف، پالیسی سازی، هماهنگی با دونر ها و سازمان های کمکی که در نظام های گذشته کمک های مالی با افغانستان می کرد و غیره می باشد. وزارت مالیه خدمات ذیل را به ادارات دولتی عرضه میدارد: ساختن بودجه (به همه ادارات دولتی)، جریان تخصیصات (به همه ادارات دولت)، جریان تادیات (به همه ادارات دولت)، گزارشهای بودجه



سالانه (به همه ادارات دولت) و اوراق با ارزش (به همه ادارات دولت).
وزارت مالیه مکلفیت اسناد بهادار ذیل را دارد: پاسپورت، جوازکار، نمبرپلیت موترها و تذکره.
تشکیلات وزارت مالیه: ساختار تشکیلاتی وزارت مالیه متشکل از مقام وزارت، معینیت اداری، معینیت مالی، معینیت عواید و گمرکات و معینیت پالیسی مي باشد.

هر یک از معینان ریاستهای عمومی مشخص را رهبری و اداره مي نمایند و تعداد بستهای که در آن کارمندان اجرای وظیفه می نمایند، در حدود ۱۳۰۰۰ بست می باشد. از آن جمله ریاست ارتباط و آگاهی عامه یکی از ریاست های وزارت مالیه می باشد، که در بخش اطلاع رسانی وزارت مالیه کار و فعالیت می کند. از آن جای که جهان در عرصه تکنالوژی و اطلاعات و ارتباطات وارد یک انقلاب فراگیر شده است، وزارت مالیه نیز نیاز مبرم در بخش اطلاع رسانی برای اذهان عامه دارد که این اطلاع رسانی را ریاست ارتباط و آگاهی عامه به عهده دارد. طوری که هویدا است امروز با در اختیار داشتن تکنالوژی اطلاعاتی و ارتباطات مختلف و پیشرفته، امکان برقراری سریع ارتباط و تبادل سریع اطلاعات بیش از پیش میسر گردیده است. افراد در هر کجا که باشند، میتوانند آخرین اطلاعات مورد نیاز خود را در هر زمینه در یافت کنند. لذا ریاست ارتباط و آگاهی عامه برای اطلاع رسانی دقیق و سریع برای مخاطبان، هفته نامه جدید را تحت عنوان "شتمني" ایجاد نموده که هدف آن انعکاس بیشتر و خوبتر دست آوردهای وزارت مالیه برای کارمندان و مخاطبان و آگاه سازی آنها از آخرین تحولات و تغییرات ایجاد شده در ادارات قرار میدهد.

## د عوایدو لوی ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمریت له لوري هڅې په هڅې مالیاتي پوهاوی ورکړل سو

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمریت له لوري په پنځمه مالیاتي حوزه کې هغو هېوالو ته د مالیاتو په تړاو عامه پوهاوی ورکړل سو، چې خپل مالیات ئې په ټاکلي وخت بیت المال ته نه ول سپارلي. د عامه پوهاوي آمریت له لوري په دغه پروګرام کې د مالیاتي قوانینو، کړنلارو او لایحو په تړاو معلومات وړاندي سول. په ورته وخت کې د هېوالو هغه ستونزې هم واورېدل سوې، چې له امله ئې خپله مالیه په وخت بیت المال ته نه ده سپارلې او د دغه ستونزو د حل په موخه د عوایدو لوی ریاست د مسؤلینو له لوري دوی ته لازمي لارښووني وسوې. د یادوني وړ ده، چې له دې وړاندې هم په یاده حوزه کې په تولیزه توګه د عامه پوهاوي سیمینار ترسره سوی وو.


## یک تن به اتهام جعل کاری در گمرک سرحدی اسلام قلعه دستگیر گردید

منسوبین شجاع گمرک سرحدی اسلام قلعه ولایت هرات یک تن را به اتهام جعل کاری در سندهای گمرکی بازداشت کرد. این فرد که اسناد جعلی گمرکی برای کانتینرهای بازگشته می ساخت، خوشبختانه بازداشت شده و برای تحقیقات بیشتر به ارگان های عدلی و قضایی معرفی گردید. قابل یادآوریست که چند روز پیش نیز فرد دیگری به اتهام ساخت اسناد جعلی گمرکی از سوی منسوبین گمرک اسلام قلعه بازداشت شده بود.




## د عوایدو لوی ریاست له لوري د ادارو او وزارتونو د اړتیا سنجوني ناسته ترسره سوه

د عوایدو لوی ریاست حمایوي مرستیال ښاغلي حافظ شاه حسین «حسیني» په مشرۍ او د غیر مالیاتي عوایدو رئیس ښاغلي امین الله «امین» او دارنګه د امارتي ادارو د استازو په حضور کې د ادارو او وزارتونو د اړتیاوو سنجوني ناسته ترسره سوه. په دې ناسته کې د ادارو په اداري اړتیاوو او چمتو کولو خبري وسوې. د عوایدو لوی ریاست مسئولینو د عوایدي برخو د ستونزو حلول له خپلو ژمنو څخه وګڼل او د دغه ډول ژمنو عملي کول ئې د عوایدو د زیاتېدو لامل یاد کړل.



# اعلانات داوطلبی

### اعلان داوطلبی دو جایداد دولتي در ولسوالی سروبی ولایت کابل!

ریاست عمومي املاک دولتی وزارت مالیه جایداد های دولتی ذیل را به شکل آفر سربسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره و کرایه میدهد.

۱. موازی (۱۱۹۰۰) متر مربع زمین سفید واقع شیرخان کخ ولسوالی سروبی ولایت کابل.

۲. موازی (۱۴۸۷۲) متر مربع زمین سفید واقع شیر خان کخ ولسوالی سروبی ولایت کابل.

۳. در صورتیکه اشخاص حکمي و حقیقي واجد شرایط خواهش اجاره و کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر را داشته باشند در خواستی های خویش را به ریاست عمومی املاک دولتی واقع تعمیر (۱۴) منزله سینما پامیر سپرده و بعد از نشر اعلان الی (۲۱) یوم مراجعه، شرطنامه را ملاحظه نموده و پول بدون بازگشت حق الاشتراک را پرداخت نمایند.

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد (پروژه ترمیم و کانکریت ریزی پیاده روها، ذخیره آب و تشناب های اکادمی ملی گمرکات) دارای نمبر قرارداد ( ۰۷۳-NCB/W/۱٤۰۲/MOF) را با شرکت خدمات لوژستیکی ساختمانی ادریس سیدی دارنده جواز نمبر٦٦١٥٩ به قیمت مجموعی مبلغ (۱،۹۹۸،۱٦٥) (یک میلیون و نهصدو نود هشت هزار و یکصدو شصت پنج) افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات - کابل ارائه نماید . این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،آمریت تدارکات- مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

### داوطلبی پروژه ترمیم و فعال نمودن کرین ها و فور کلفت های گمرکات ولایات

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی (پروژه ترمیم و فعال نمودن کرین ها و فور کلفت های گمرکات ولایات مربوطه، وزارت مالیه) دارای نمبر تشخیصیه ۰۸٥-NCB/G/۱٤۰۲/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایي: تاریخ ۰٤/ قوس /۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۱٤/ قوس /۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ بعد از ظهر میباشد.

تضمین آفر: به مبلغ ۹۰,۰۰۰ (نود هزار) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبپاڼه: mof.gov.af
ټویټر: @ Ministry of Finance - Afghanistan
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)



## Administrative Deputy Minister & Kafil of MoF Meets with Ex-deputy of Secretary-General of UNODC



In this meeting, Mr. Pino Arlacchi admitted that along with other developments in Afghanistan, there has been an unprecedented decrease in drug cultivation and smuggling. "This positive step is good news for Afghanistan and the world. Therefore, it is necessary for the international community to cooperate with Afghan farmers in providing alternative cultivation of poppy", he added. Maulawi Hamdullah Zahid, Administrative Deputy Minister & Kafil of MoF, thanked Mr. Arlacchi for his positive opinion and added that drug cultivation, production and trafficking is a challenge for all countries, which the IEA (The Islamic Emirate of Afghanistan) is in struggle against it and the international community should help in creating alternative ways for Afghan farmers in this regard. Maulawi Hamdullah Zahid also mentioned that IEA is ready for any kind of constructive cooperation and face-to-face dialogue with countries and organizations of the world in the field of drug eradication

## 94,000 Tons of Contrabands Seized in First 6.5 Months of Current Fiscal Year




In the first six and a half months of the fiscal year 1402 Hijri the intelligent and active mobile surveillance staff of MoF seized 94 thousand & 116 tons of poor quality and prohibited goods in different areas of Kandahar, Nimroz, Khost, Paktia, Helmand and Nangarhar provinces. The said amount of contrabands includes: medical, agricultural and Yunani medicines; edibles, drugs and so forth, which have been smuggled from Pakistan to Afghanistan Currently, the customs inspection or mobile surveillance staffs of General Directorate of Customs related to MoF are active on all highways of the country and they do not allow anyone to Import or export contrabands and prohibited or smuggling goods, especially those commodities that cause the weakness of our domestic industry. Contrabands from one hand provide the basis for the escape of revenues and on the other hand, create unfair competition between traders in the markets, which their prevention causes the growth and development of legal business consequently. Notably, the prevention of contrabands and prohibited goods is one of the priorities of the leadership of MoF; therefore, the relevant officials have great and better achievements in this field daily.

## Construction Projects Worth Over 78 million Afs Initiated in Dand Patan, Abu Nasr Farahi Customs

In order to create convenience for traders and solve their problems, the General Directorate of Customs has decided to allocate 43.7 million Afs for Dand Patan Customs to build its two hangars, level the customs area and construct a retaining wall around it. Also, to protect the commercial goods and to create facilities for traders, the General Directorate of Customs dedicated another amount of 34 million Afs for Abu Nasr Farahi Customs with the intention of constructing of two hangars and its towers. The inauguration ceremony of the projects in Dand Patan customs was officially held by the delegation from Kabul and the officials of Paktia province under the leadership of Mr. Muhammad Musa Omar, Director of support and development of the General Directorate of Customs, as well as the inauguration of the project of Abu Nasr Farahi Customs was held with cutting the ribbon by the officials of Farah province, the Directorate of Farah city urban development and the representatives of Chamber of Commerce. Notably, the budget of these projects is financed from the development budget of MoF and its works will be completed within a year, despite to create conveniences for traders, the works of both customs offices will be speeded up and it will also bring tranquilities for the employees.







د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.